خوشحال آصفي

۲۰۱۵/۱۱/۲۲

د کابلبانک قضيه د سياسي کېدو پر لور

محمدي د بينا او ضيا مسعود او منصور نادري د قانون له ړندې سترګې لاندې.

د وروستيو راپورونو له مخې د ګډ حکومت مشر؛ اشرف غني خپل حقوقي سلاکار عبدالعلي محمدي د قانون د نقض په تور له دندې ګوښه کړی دی. پر عبدالعلي محمدي وروسته له هغه نيوکې زياتې شوې چې تېره اوونۍ يې د اوو ميليونو ډالرو په بدل کې د کابل بانک د ميليوني پوروړي خليل فيروزي د خوشې کولو او له هغه سره د قرارداد کولو امر کړی وو.

څو ورځې وړاندې د ولسي جرګې په عمومي ناسته کې پر محمدي تور ولګول شو چې د خليل فيروزي په دوسيه کې يې اووه ميليونه ډالره بډې اخيستي دي.

خليل فيروزي د کابل بانک د ۹۰۰ ميليونه ډالرو د غلا مجرم او د دغه بانک ۴۵۰ ميليونه ډالره پوروړی دی. نوموړی د حامد کرزي د حکومت په وخت کې په لس کاله بند محکوم شوی وو خو څو ورځې وړاندې په ناڅاپي ډول خوشې او ورسره د سمارټ سيټي بنارګوټي قرارداد هم لاسليک شو. د نوموړي له زندانه وتل د خلکو تونده غوسه را وپاروله او پر ګډ حکومت يې سختې نيوکې وکړې.

کله چې د ګډ حکومت شريکان د خلکو او نړيوالو له کلک غبرګون سره مخامخ شول نو په لمړي اقدام کې يې ولسمشر خپل حقوقي سلاکار عبدالعلي محمدي له دندې ګوښه کړ. خو د محمدي په دندې ګوښه کيدو سره لا جنجال پاينه نه دی رسيدلی بلکه نوموړي د قضيې بل اړخ راوسپړلو. اوس د ولسمشر حقوقي سلاکار له دندې څخه د ګوښه کيدو په غبرګون کې ويلي چې د نوموړي په خلاف دسيسه جوړه شويده. هغه وايي، د کابل بانک د قضيې تر شا ګڼ شمېر لاسونه دي چې ډېر ژر به يې افشا کړي. محمدي وايي، د هوشمند بنارګوټي د ټرون مکتوب يې د نبي زاده وردګ شرکت لپاره صادر کړی وو، خو د بنار جوړونې وزير د ناڅرګندو دلايلو له مخې ټرون له فيروزي سره لاسليک کړ. دی له نوموړي سره د ګډ بنارګوټي د هوکړې پېره هم د بنارجوړونې پر وزارت اچوي.

بل لور ته په ياده مسئله کې يوازې د ولسمشر حقوقي سلاکار عبدالعلي محمدي ګرم نه بلل کيږي؛ بلکه د مرکزي په نوم د يوه خبري آژانس د راپور له مخې؛ په بنې حکومتولی کې د ولسمشر فوق العاده استازي ضيا مسعود او د ولسمشر حقوقي سلاکار عبدالعلي محمدي د دې معاملې په بدل کې ۳،۴ ميليونه ډالره رشوت اخيستی دی. اژانس په ولسي جرګه کې د مؤثقو سرچينو له قوله ويلي د دغه ټرون په بدل کې احمد ضيا مسعود ته ۵،۲ ميليونه ډالره او عبدالعلي محمدي ته ۸،۱ ميليونه ډالره بډې ورکړل شوې دي.

همدا شان د کابلبانک د غلا له لومړي درجه مجرم خليل الله فيروزي سره د هوشمند په نوم د ټرون د لاسليکولو پر مهال هم؛ د نورو خلکو تر څنګ د افغانستان د بنارجوړوني وزير سيد سعادت منصورنادري او په بنې حکومتولی کې د ولسمشر ځانګړی استازی ضيا مسعود هم شتون درلود او د ټرون د لاسليک پر مهال يې فيروزي ته داسې چکې وهلې چې ګوايا د يو اتل هرکلی کوي. خو د راپورونو له مخې د ګډ حکومت مشرانو يوازې عبدالعلي محمدي له دندې ګوښه کړی او د قضيې نور اړخونه يې له پامه غورځولي دي. داسې ښکاري چې يوازې محمدي د قانون د بينا سترګې لاندې راغلی او نور اړخونه يې د قانون له ړندې سترګې لاندې آزاد ګرځي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دا سمه ده چې له فيروزي سره په يادې معامله کې به عبدالعلي محمدي مرکزي رول لوبولی وي ځکه خو ارګ په لمړي قدم کې نومورې له دندې ګوښه کړ؛ خو داسې هم بايد ونشي چې د يادې معاملې پړه يوازې په يو تن واچول شي او قضيه پرته له هر اړخيزو څيړنو د محمدي په مجرم پيژندلو پايته ورسيږي. د کابلبانک له قضيې سره نه بايد د نورو قضيو عادي چلند وشي. لمړی بايد په يادې قضيه کې په فساد تورن چارواکي لکه ضيا مسعود او نور هغه چارواکي چې د تړون د لاسليک پر مهال هلته ولاړ و او چکې يې وهلې لکه منصور نادري؛ وپوښتل شي او بيا دې همدا محمدي له جدي تحقيق لاندې ونيول شي څو په يادې معامله کې ښکيل نور اړخونه هم څرګند او په خپل سزا ورسيږي.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ